**مطبوعاتي اعلامیه**

**د صلیبي ایتلاف ځواکونو په چوپتیا سره تېلوژنه وکړه، په الرقه او دیر الزور ښارونو کې یې د کورنیو ټول غړي ووژل**



په دې ورستیو کې د دیر الزور په سهیل ختیځ کې د صلیبي ترون الوتکو پر زیربیناوو او استوګنځیو هوایي بریدونه ترسره کړل، چې د پنځو ماشومانو په ګډون یې پکې اوه تنه ووژل. دا پېښه داسې مهال ترسره شوه چې تر دې دوې ورځې وړاندې د الطیبه ښارګوټی په نښه شو، چې(۱۸) تنه ملکي وګړي پکې ووژل شول، تر (۲۰) زیات ټپیان شول او ډېر مادي زیان یې واړوه.

پر یادو پېښو سربېره د (۲۰۱۷) کال د جولای پر (۲۸مه) د دیرالزور په ختیځ کې د دیبلن پر کلي د هوایي بریدونو له کبله په رامنځته شوې تېلوژنه کې تر (۵۰) زیات ولسي وګړي ووژل شول. د جمعې ورځې پر ماښام د رقې ښار

په یوه نوې ټولوژنه کې د یوې کورنۍ ټولټال (۱۵) کسان د اوو ماشومانو او درې ښځو په ګډون ووژل شول چې په دې سره په تېرو (۷۲) ساعتونوکې د وژل شوو کسانو شمېر کابو (۱۲۰) تنو ته ورسېد.

د دغو هوايي بریدونو سره هم مهاله، د اسد د ظالم رژیم جنګي الوتکو د دیرالزور پر ګاونډیو سیمو بمبار وکړ، چې په پایله کې یې درنه مرګژوبله رامنځته کړه او ډېرې ودانۍ او استوګنځي یې له منځه یوړل. د ملکي وګړو پر وړاندې د داعش سرغړونې او بې توپیره اعدامونه چې پرته له کومې مشروع توجیه تر سره کیږي، د پورته تر سره شوو جنایاتونو تر څنګ نور ډولونه دي.

دغه خپل سرې او جنايي کړنې موږ ته هغه څه را یادوي چې په دې ورستیو کې په موصل کې د همدغو رسنیو او نړیوالو تر څارنې لاندې پېښې شول او دوی ادعا کوله چې نوموړی صلیبي ترون په سیمه کې د دوی په وینا د "ترهګرۍ" پر وړاندې جګړه کوي، تر څو سیمه د داعش له شتون څخه پاکه کړي. خو حقیقت دا دی چې د ایتلاف الوتکې په سیمه کې یوازې زیربیناوې، د عامه ګټې اخیستنې ودانۍ، پلونه او د تېلو او ګازو زېرمې په نښه او ویجاړوي یې. د همدې دلیل له مخې د موصل جګړې دوام وکړ، خو د سوریې په بېلابېلو سیمو کې ګڼې ټولوژنې ترسره شوې او زیات شمېر ملکي وګړو پکې خپل ژوند له لاسه ور کړ.

ایا موږ به د ټولوژنې د هغې بېلګې شاهدان شو چې د (۲۰۱۷م) کال د مارچ په میاشت کې په موصل کې پېښه شوه او په پایله کې یې د (۲۰۰) ماشومانو په ګډون تر (۵۳۱) زیات ملکیان ووژل شول؟ ایا موږ به بیا د رسنیو هغو راپورونو ته په تمه اوسو، چې د پوځي عملیاتو له امله د مړو وېروونکی شمېر په ډاګه شو، لکه د موصل د جګړې په پای کې خپور شوی راپور چې د نظامي ځواکونو له امله د (۴۰) زرو څخه د زیاتو ملکي وګړو، چې تر نیمايي زیات یې ښځې او ماشومان وو، ووژل شول او لسګونه زره وګړي د ړنګو ودانیو د خاورو او خښتو لاندې ښخ کړل شول.

هر څه شونې دي او هیڅ ناشونې نه دي، څرنګه چې مجرم یو دی، موخه یې هم یوه ده. دلیل یې تل "تروریزم" وي، چې له دې لارې غواړي هیوادونه اشغال کړي او خپل جګړه ییز ماشین  په یو ډول د ونو، کانو او انسانانو پر ضد چلوي. د وګړو پر مرۍ پښه ږدي، هره هغه اسلامي بیداري او ویښتیا له منځه وړي، چې په مټ یې اسلامي شعارونه پورته کیږي او د خپلسرۍ مخه نیول کیږي.

نوموړي جنایتکار ایتلافي ځواکونه چې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې یو موټی شوي دي، که مسلمانانو دوی ته په خپله خاوره کې د پښو اېښودو ځای او پوځي اډې ورکړې نه وای، عالمانو مو د امت د باور او ژوند په راستنېدو کې خپل نقش له لاسه ورکړی نه وای او خپلو جرمونو ته یې ړندې سترګې اړولې نه وای او د اسلامي نړۍ پوځونه

په خپلو پارکونو کې پرته له کوم خوځښت څخه ساتل شوي نه وای؛ نو نن به مو د امت حيثيت او پت بيا راستون کړی وای.

موږ معامله ګرو ته وايو چې تاسې سوريه  د مذاکراتو او سياسي اوربند له لارې ووېشله، د هرې هغې هڅې مخه مو ونيوله چې د رژيم بدلون او له منځه وړل پرې شونی وو او د مجرم رژيم سره مو خبرې اترې پيل کړې، په دې موخه چې د مخلصو پاڅونوالو دفاعي کرښې ماتې کړئ او د وېښو او بيدارو مسلمانانو  ټولو هڅو ته زيان واړوئ.

نو اې مسلمانانو! کرغېړن او شوم دښمنان ستاسې پر وړاندې سره يو ځای شوي دي. سره له دې چې پولو او هيوادپالنې تاسې يو له بله سره بېل کړي ياست، خو دوی تاسې ته د يوه واحد امت په سترګه ګوري، د محمد صلی الله عليه وسلم د امت د هرې هيلې، واقعي پاڅون او د دغه شريف ولس د سالمې بيدارۍ پر وړاندې خپل له کرکې ډک چلند او ګواښ څخه کار اخلي.

پوه شئ چې د الله سبحانه و تعالی له ارادې سره سم، تر يو څه ځنډ وروسته بريا راتلونکې ده. نو د قدير او متين ذات د رضا ترلاسه کولو او د دين د پياوړي کولو لپاره په کلکه سره لاس په کار شئ. په دې هڅه کې اوسئ چې هغه څه لاس ته راوړئ چې د کايناتو څښتن او د ده پيغمبر صلی الله عليه وسلم يې ژمنه کړې ده.

**«ثُمَّ تكُونُ خِلاَفَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

*وروسته به د نبوت پر تګلاره خلافت راشي.*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**د ښځو څانګه**

**شمېره: ۰۵۴ / ۱۴۳۸هـ**

**۱۴۳۸هـ.ق، د ذوالقعدې ۱۳مه**

**۲۰۱۷م، اګېسټ ۵ مه**